NEWBORN SCREENING **ONTARIO**
DÉPISTAGE NÉONATAL **ONTARIO**

**BILIARY ATRESIA**
د صفراوی قنات بندښت


# Infant Stool Colour Card
# د نوی زیږیدلی ماشوم د غایطه موادو د رنګ کارټ

## ABNORMAL: Pale Stool Colours
## غیر نورمال: کمرنګه غایطه مواد




Consult the physical version of this card for greater colour accuracy.
د غایطه موادو د رنګ د لاښه او لا په ځیر لیدو لپاره کاغذی چاپ شوی کارټ وګورئ.

## NORMAL Stool Colours
## د غایطه موادو نورمال رنګونه




## INSTRUCTIONS

Check your baby's stool (poop) colour every day for the first month after birth to screen for biliary atresia.

**If your baby has an abnormal stool colour (see above colours 1,2,3,4,5,6), please contact Newborn Screening Ontario by phone or email or by scanning the QR code below.**

## هدایات

د خپل ماشوم د غایطه موادو (ډکو متیازو) رنګ له زیږیدو څخه وروسته تر یوې میاشتې پورې وڅارئ تر څو ډاډمن شئ چې ستاسو ماشوم د صفراوی قناتو بندښت نلري.

که ستاسو د ماشوم د غایطه موادو رنګ غیر نورمال وي (د ۴،۵،۱،۲،۳ یا ٦ شمیره عکسونو د رنګونو په شان) نو د ټیلفون په واسطه یا د هغه کیو آر کوډ (QR code) چې لاندې یی وینئ په سکن کولو د ایمیل په ذریعه د انتاریو د ایالت د نویو زیږیدلو ماشومانو د څارنی له ادارې سره اړیکه ونیسئ.

**Phone / تیلفون :** **1-833-POOP-CHK** (1-833-766-7245)

**Online / د انترنت په ذریعه :** www.newbornscreening.on.ca/poop

**Email / ایمیل :** NSOBA@cheo.on.ca

**When identification and treatment start early, babies with biliary atresia can have a better chance to grow and develop normally.**

## What is biliary atresia?

Biliary atresia (BA) is a rare but serious disease where bile cannot get from the liver to the stool (poop). Babies with BA usually seem well but they can develop **pale yellow or whitish coloured stools** in the first month of life. Along with the pale poop, these babies can have yellow skin and eyes **(jaundice) lasting longer than the first two weeks of life**. Without treatment, babies with BA will develop life-threatening liver damage. Treatment is most effective when babies are identified before they are one month old.

## How can you screen for biliary atresia?

You can screen for BA by comparing your baby's stool (poop) colour to the numbered pictures on the front of this card, for the first month after birth. Screening for abnormal stool colour can help to identify problems with the liver earlier. Keep this card close by when you change your baby's diaper.

## Who do I contact and when?

**If at any time during the screening you notice that your baby has an abnormal stool colour (number 1,2,3,4,5, or 6), please contact Newborn Screening Ontario using the information on the front of this card.**

Please have available the baby's name, birth date, and health card number. If you also choose to see your doctor, please take this card with you.

## What happens next?

First, don't be alarmed. This is a screening tool and not a diagnostic test. A clinical team member from Newborn Screening Ontario will return your call by the next business day to discuss your concern and begin next steps. Your privacy and health information is protected. Learn more: www.newbornscreening.on.ca/privacy

If you have concerns about your baby **other than stool colour**, please contact your health care provider. For more information about biliary atresia, visit our website or scan the QR code on the front of the card.

---

**Information is available in other languages. / دغه معلومات په نورو ژبو موجود دي.**
www.newbornscreening.on.ca/poopcard

---

**که د صفراوی قناتو بندښت ژر تشخیص او تداوی یې پیل شی، هغه ماشوم چې دا عارضه ولری نو ډیر امکان لري چې په عادی توګه وده وکړي او لوی شي.**

## د صفراوی قناتو بندښت څه دئ؟

د صفراوی قناتو بندښت یوه کمیابه خو خطرناکه ناروغی ده چې پکې صفرا له ځیګر څخه غایطه موادو ته نشی رسیدلی. هغه ماشومان چې د صفراوی قناتو بندښت ولري معمولاً روغ رمټ معلومیږي خو د ژوندانه په لومړۍ میاشت کې د هغوی غایطه مواد **پیکه ژیړ یا سپین بخون رنګ** ځان ته غوره کوی. داسی ماشومان د کمرنګه ډکو متیازو د لرلو برسیره ژیړبخونې پوستکی او سترګې لري لکه هسی چې د **ژوندانه له دوو لومړنیو اونیو څخه زیات دوام کوونکی ژیړی یی نیولی وي**. که د داسی ماشومانو درملنه و نشی نو ځیګر ته یې وژونکی تاوان رسیدلی شی. درملنه به هغه مهال ډیره ښه پایله ولری چې دغه ناروغی مخکی له دې چې ماشوم یوه میاشتنی شی تشخیص شي.

## څنګه کولای شئ د خپل ماشوم د صفراوی قناتو د بندښت څارنه وکړئ؟

تاسې کولای شئ د صفراوی قناتو د څارنې په موخه خپل د ماشوم د ډکو متیازو رنګ د هغه د ژوندانه په لومړۍ میاشت کې له هغو نمره لرونکو عکسونو سره مقایسه کړئ چې ددغه کارټ په لومړۍ مخه کې لیدل کیږي. د ماشوم د ډکو متیازو د رنګ څارنه کولای شي د ماشوم د ځیګر ناروغی په هماغه اول سر کې تشخیص کړي. دغه کارټ هغه مهال چې د خپل ماشوم وورنی یا ډایپر تبدیلوئ لاس ته نیږدی وساتئ.

## څه وخت له چا سره اړیکه ونیسم؟

**که د څارنې په هر مهال متوجه شولئ چې ستاسې د ماشوم د غایطه موادو رنګ غیر نورمال دئ (د ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، یا ٦ شمیره عکسونو په شان) نو د هغو معلوماتو په استفادې سره چې ددې کارټ په لومړۍ مخ کې شته دئ د انټاریو د ایالت د نویو زیږیدلو ماشومانو له ادارې سره په تماس کی شئ.**

مهربانی وکړئ خپل د ماشوم نوم، د زیږیدلو تاریخ او د روغتیایی کارټ نمبر یی ځان سره تیار ولرئ. که مو غوښتل چې ماشوم د معاینی په موخه ډاکټر یا نرس ته بوځئ نو روغتیایي کارټ ځان سره ولرئ.

## وروسته بیا څه کیږي؟

په لومړی سر کې مه وارخطا کیږئ! دغه کارټ د تشخیص کولو وسیله نده بلکه د څارنې وسیله ده. د انټاریو د ایالت د نویو زیږیدلو ماشومانو د ادارې د روغتیایی ټیم یو غړی به تر یوې کاري ورځې پورې تاسو سره اړیکه ونیسی ترڅو ستاسی د تشویش په هکله درسره خبرې وکړي او وروپسې ګامونه وټاکي. ستاسی خصوصی محرمتیا به په نظر کې ونیول شي او د صحي معلوماتو محرمیت به وساتل شی:
www.newbornscreening.on.ca/privacy

که د غایطه موادو د رنګ برسیره د خپل ماشوم په ارتباط کوم نور تشویش ولرئ نو معالج ډاکټر یا نرس سره په تماس کې شئ. د صفراوی قناتو د بندښت په هکله د زیاتو معلوماتو د لاس ته راوړلو په خاطر زمونږ ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ یا هغه کیو آر کوډ (QR code) چې ددغه کارټ په لومړی مخ کې شته دئ سکن کړئ.

We thank / مننه کوو له
Health Promotion Administration, Ministry of Health and Welfare, Taiwan, and Professor Mei-Hwei Chang, National Taiwan University, College of Medicine for authorizing the use of stool colour photos. / څخه چې د غایطه موادو د عکسونو د استفادې اجازه یی راکړل.

*For permission to use any content on this card, please contact NSO.*



415 Smyth Road, Ottawa, ON K1H 8M8 · Phone: 1-833-766-7245
www.newbornscreening.on.ca · NSOBA@cheo.on.ca

Please recycle!
د مهربانی له مخې دغه کارټ ریسایکل کړئ!

© Newborn Screening Ontario, 2024